درې قسمه کسانو سره به الله تعالى د قيامت په ورځ خبرې ونه کړي، نه به يې پاک کړي او د دوی لپاره به دردوونکی عذاب وي

له سلمان الفارسی رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «درې قسمه کسانو سره به الله تعالى د قيامت په ورځ خبرې ونه کړي، نه به يې پاک کړي او د دوی لپاره به دردوونکی عذاب وي: زوړ (بوډا) زناکار، کبرجن غريب، او هغه کس چې د الله تعالى لخوا ورکړل شوی مال له سوګند پرته نه پلوري او نه يې پېري».

[صحيح دی] [الطبراني روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د درې ډوله خلکو په اړه خبر ورکوي چې که دوی توبه ونه کړي او يا ورته د سزا بخښنه ونه شي نو د قيامت په ورځ به د الله تعالى لخوا د درې ډوله عذابونو مستحق وي: لومړۍ سزا: الله تعالى به له دوی سره د قيامت په ورځ د سختې غصې له امله خبرې ونه کړي او مخ به ترې وګرځوي، او يا به ورسره داسې خبرې وکړي چې هغوی پرې خوشحاله نه شي، چې دا به پر دوی د الله تعالى د غضب څرګندونه کوي. دويمه سزا: الله تعالى به هغوی پاکيزه نه کړي، نه به يې ستاينه وکړي او نه به يې له ګناهونو پاک کړي. دريمه سزا: دوی ته به په اخرت کې سخت دردوونکی عذاب وي. او دا درې کټګورۍ کسان په لاندې ډول دي: لومړی ډول: بوډا سړی چې د زنا په بد کارۍ اخته وي. دويم: هغه فقير چې مال نه لري، خو بيا هم پر خلکو تکبر کوي. دريم: هغه څوک چې د پلور او پېر پر مهال په الله تعالى ډېر قسمونه خوري، چې په دې سره د الله نوم سپک ګڼي او د پيسو د ترلاسه کولو لپاره يې وسيله ګرځوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5952

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee